# مسافر ملنگ

Download from: aghalibrary.com

د کتاب نوم : مسافر ملنګ

شاعر : شیکن «خروټی»

د چاپ شمیر : ۱۰۰۰ ټوکه

خپرونکی : علمي خپروندویه ټولنه / ګردېز

کمپوز او ډیزاین : عارف خان «ځلاند»

پښتی ډیزاین : بغلان «مسلم یار»

چاپ کال : ۱۳۹٤

د چاپ ټول حقوق له خپرونديې ټولنې سره خوندي دي

د ترلاسه کېدو ځایونه

علمي کتاب پلورنځی

پکتیا، د ګردېز ښار، غزني لین، د عبدالحمید ګردېزي مارکېټ، افغانستان

اړیکشمېرې: ۰۷۷۲۲۸۸۱۹۰_۰۷۷۲۹۳۶۳۴۱

برېښنالیک: ilmiketabtoon@gamil.com

پکتیکا : پکتیکا اورګون ظهوري کتاب پلورنځی مسؤل ملا جان محمد ۰۷۷۷۸۳۱۷۷۰ ۰۷۰۰۸۳۱۷۷۰

پکتیکا : سروبی اریانا کتاب پلورنځی مسؤل عبیدالله عابد ۰۷۷۸۷۸۵۸۵۶

پکتیکا : مجاهد کتاب پلورنځی ښرنه شهیدانو چوک ۰۷۷۲۲۸۸۹۹۳ ۰۷۹۹۰۹۲۳۶۵

کابل : د پکتیکا د ځوانانو د متحدې شورا مرکزي دفتر دارلامان سړک علاوالدین لېسې ته مخامخ

معراج ټاور ۰۷۷۷۴۷۷۷۳۷ ۰۷۰۰۴۷۷۷۷۳۷

جلال آباد: مومند کتاب پلورنځی / ختیځ کتاب پلورنځی / زیار کتاب پلورنځی

خوست : رحیمي کتاب پلورنځی / ابدالي کتاب پلورنځی / غرغښت کتاب پلورنځی

کابل: خیبر کتاب پلورنځی / مستقبل کتاب پلورنځی / اکسوس کتاب پلورنځی

کندهار : کرووړ کتاب پلورنځی / افغان کتاب پلورنځی

Download from: aghalibrary.com

بسم اللہ الرحمن الرحیم

Download from:
aghalibrary.com

## سریزه

**دعزت ورکوونکي اوذلت ورکوونکي څښتن په سپیڅلي نامه !**

**تر ټولو لومړی د الله پاک دربار ته باید ټول د عاجزۍ لاسونه پدې خاطر لپه کړو، چې د مسلمان کېدو او د سرور کاینات د امتي کېدو شرف یې راپه برخه کړی.**

**که څه هم د زېږېدنې د ورځې را پدې خوا ان تر دې دمه پورې پدې ملک کې د ډېرو ناخوالو او ننګونو شاهدان یو. تل د یومسلمان ورور په کور کې د غم او ویر شاهدان یو او ستوني موتل د کریغو اوغلبلو څخه ډک وي. که پوښتنه وشي چې ولي؟**

**زما په اند افغانان لکه ټوله دنیا یې چې پېژني، د مېړانې او سرښندې سېمبول دي. افغانان په دین اووطن مین خلک دي، څرنګه چې ځان مسلمان بولي، همدغسې اسلامې اصولو ته معتقد دي.**

**اسلام د بشریت د ښه ژوند لپاره سولې ته ترجیح ورکوي او سوله هغه څه ده، چې ملتونه د کامیابي تر پولو رسوي.**

**خو زموږ د ژوند برخلیک بل ډول دی. موږ جنګ نه غواړو؛ خو جنګ همېشه پرموږ تپل کیږي او د یو ازاد او بااحساسه مخلوق په حیث داحق لرو، چې د ځان څخه دفاع وکړو.**

**له ډېرو خبرو را تیریږم. د هیواد پدې ترېنګلو حالاتو کې که یو څوک مو په خوله خندا راولي او د وخت ناخوالې او ظلمونه او د سوله پیز ژوند انځور مو د فکر نړۍ ته راوړي، فکر کوم داسې چا به زموږ د خندا راز پټ کړی وي.**

د همداسې شاعر حکیم الله « شیکن » ورور دا شعري ټولګه درته یادوم، چې د مسافرۍ او نور د غربت د ژوند حالات یې د شعر په ژبه منعکس کړیدي.

حکیم الله ( شیکن ) ورور لوړ استعداد لري؛ خو بدبختانه د غربت ژوند یې د مسافرۍ بوټونه ورپه پښو کړي اولالهانده خپل منزل ته په رسیدو پسې ګرځي. زه یې دا هڅه ستایم او د الله ج څخه ورته د هوسا ژوند غوښتونکی یم.

په درنښت

ډاکټر بسم الله «همدرد»

## د لته یو شاعر و، د «شیـــــکن» په نـــــــوم!

مخکې لدې چې د تاند شاعر حکیم الله شیکن د اشعارو پر پیغام او موضوعاتو وغږېږم، لازمه بولم، چې د شیکن صېب په هکله یو دوه پاراګرافه تور کړم. د شاعر شیکن صېب د شخصیت مثبت اړخونه ډېر زیات دي؛ خو زه به فقط دومره ووایم، چې ښاغلی شیکن صېب یو ملتپال، سوله پال، د ښه فکر څښتن او نیک خویه انسان دی، لکه څرنګه چې حکیم الله شیکن ځانته د شیکن تخلص غوره کړی، همداسې په زغرده او په بې پروایې سره یې تل د خپلې ټولنې او ولس منفي دودونه او رواجونه مات کړي او د شعر په ژبه یې د هغوی د اصلاح او سمون غوښتنه کړې ده. دی تل د حق طرفدار پاتې شوی، په شعرونو کې یې د موضوعاتو په راوړلو کې له هېچا څخه وېره نده څرګنده کړې او په ډېرو بدو کړنو او بدو رواجونو یې پښې ایښې دي.

شاعر شیکن صېب له خپل هېواد او وطن سره ډېره مینه لري. طبیعي ده، چې له مرګه هر څوک وېرېږي؛ خو دی په یوه مرګ، د خوشاله کېدو احساس کوي، ده مرګ ځانته مخاطب کړی او له هغه یې غوښتي، که چېرې لده څخه د وطن د سوکالۍ او ابادۍ لپاره ژوند اخلي او دغه ویاړ ور په برخه کوي، چې دی خپل ژوند له وطنه قربان کړي؛ نو دغه کار بیا د مرګ یو احسان هم بولي. شیکن وایي:

که د وطن په نوم مې اخلې او دا ویاړ راکوې
مرګه راغــاړې اوځه، دغه یو احسان خو وکړه

د درانه شاعر حکیم الله شیکن شاعري بېلا بېل اړخونه لري، نوموړی د خپلو اشعارو په واسطه د ټولنې ستونزې تر خلکو ور رسولې، د شعر په ژبه یې د ټولنې طبقې یا ستایلې یا یې غندلې او یا یې هم ورته توصیه کړېده، چې لاندې نظم یې یوه ښه بېلګه ده، چې هغه پکې

یو یاغي او بې پروا یتیم ته په څومره خوږه ژبه د هغه نېمګړتیاوې ورښودلې او بیا ورته د یو مهربان پلار او استاد په صفت لارښوونه کوي، چې باید ترې پرهېز وکړي. شیکن ورته د شعر په ژبه داسې ګویا ده:

د کونــډې زویه په کوڅو مه ګرځه، کـــور وساته
واخله بېلچه، چېرته مزدور شه، بوډۍ مــور وساته
چې ځنې غوړې ګرځوې، په لار زلفان ســـموې
ته دې د کـــلي له خـــانانو ســــره ځان سموې
بل ته لاس مه نیسه، که خورې یې په دا ګـلو لاسو
یـو ټوک ډوډۍ ځانـته پیدا کړه په دا خپلـو لاسو

نوموړی له پښتو او پښتنو سره دومره بې کچې مینه لري، چې حتا د پښتو او پښتنو په هکله خوبونه همویني او دغې مینې دی لا خوب ته هم په قــراره نده پرېښی. دی خپله یوه اندېښنه د شعر په ژبه داسې بیانوي:

مشره ما داسې خوب لېدلی، اوس منې او کنه؟

د ستـــا د څنــګ ملګـري تا او ستا پښتو وژني

پښتانه یو وخت ډېر زیات په اتفاق وو، د دوی یوالي په هندوستان باندې د دوی د حکومت کولو باعث شو؛ خو د وخت په تېرېدو سره د توطیو ښکار شول، سره بې اتفاقه شول، خپله پښتانه د یو بل پر ضد راپورته شول، یو بل یې سره ووژل او پدې توګه د پښتنو د سر سړي پخپله د پښتنو په لاس ووژل شول. شاعر شیکن څه ښه وایي:

دوی هوښیاران دي، دوی دا پړه په غاړه کله اخلي

دوی مـو هـــمېش د سر سړي په پښتنــــــو وژني

شاعر شیکن صېب په خپلو اشعارو کې انقلابي وختونه او شرایط هم انځور کړي دي. دی وايي، چې دغو انقلابونو راڅخه د کار سړي واخستل، هډېرې پرې ډکې شوې؛ خو زیاتوې چې د وطن دښمنان مو باید د کارنامو د پټولو هڅې ونکړي، ځکه چې کارنامې مو په ټوله نړۍ کې ځلانده دي. دی وايي:

خښ شول غرونه غـرونه څو سړي پکې

اوس مو هــډېرې تر غـرونو جگې دي

څنگه به یې پټې څوک په خاورو کړي

تـــــل مو کارنامې تر غرونو جگې دي

د ټولنې د محکوم قشر ( انجونو) په هکله زموږ په ټولنه کې دا تصور عام دی، چې انجونې باید صرف په کور کې د کور کارونه وکړي؛ خو انجونو بیا اوس دا ثابته کړې ده، چې که چېرې یې له پښو د رواجونو کړۍ خلاصې شي او له اورمیږه یې زنځېرونه ولوېږي؛ نو دوی هم د میوندۍ ملالې په شان د کارنامو کولو توان لري: شیکن څه ښه ویلي دي:

راویــــښوي غفلــت وهلي پښتانه له خــوبــــــــه

چــمبه را واخـــــلي د غذا واخلي سندره پېغلې

تنها په کور کې د کور چارې پر مخ نه وړي گوره

پـه میونــدونــو کې وتلــې تر سنـــگره پېـــغلې

یو مستشرق ویلي و، چې پښتانه ژوندي نه ستايي، مړه ستايي، ژوندې قومونه ژوندي او مړه، مړه ستايي؛ نو شیکن صېب هم له هېوادوالو غوښتي، چې باید د هرې ملي ستې قدر او احترام د ده په ژوند وشي او پس له مرگه یې باید په اتل او ښاغلو نومونو باندې یاد نکړي. شیکن صېب په یو بیت کې وايي:

**ځوک چې په ژوند زما د سترو هيلو قدر نکړي**

**له مرګه پس مې دې ښاغلي او اتـــل نه ليکي**

**د ښاغلي شيکن صېب يوه ځانګړنه، چې زما ډېره خوښېږي هغه دا ده، چې نوموړی ډېره اوږده موضوع، د شعر په قالب کې، په ډېرو لنډو الفاظو کې، د قافيو د بنديزونو سره سره، په ډېره ښه او روښانه ډول بيانوي. دی د شعرونو په ډګر کې د ايجاز برخې ته ډېر مايل ښکاري يانې ډېر مفهوم په لږو الفاظو کې بيانوي. شيکن صېب پخپله وايي:**

**په ځو لفظونو کې رانغاړي د ژوند ټول اړخونه**

**د شيـــکن دغــه مهــارت تـه سړی فـکر يوسي**

**دا چې شاعر شيکن په خپلو شعرونو کې له ډېر لوړ تخيل څخه کار اخيستی او د ده د شعرونو لوړ مقام ته په کتو، پر هغو تبصره کول، زما د ناتوانه پوهې کار ندی؛ خو بيا هم ما عاجز بنده زما د توان مطابق د هغه پر شعرونو يو څه ولېکل، منم، چې دا پورتنۍ لېکنه به مې له تېروتنو او ستونزو ډکه وي؛ خو دا مې د ناتوانه پوهې درک و، د تېروتنې بخښنه غواړم او شيکن صېب ته د دعا لاسونه لپه کوم، چې ژوند دې ښکلی شه، په ګوتو د برکت شه او له لوی خدایﷻ ورته د لا بريا په هېله يم.**

**په مينه!**

**محمد ولي قرار ځاځی**

**د دوآبې کېمپ هنګو پېښور پاکستان**

**2015، 17، اکتوبر ، شنبه**

# مننه

له هغه چا څخه چې زه يې دې کار ته هڅولی یم؛ خو په خاص ډول له ډاکټر صاحب برات اميري، قاضي ضبت الله، مجاهد خروټي، حاجي عبدالقدیرخروټي او له هغو دوستانو څخه چې د دې کتاب په چاپولو کې يې راسره مادي اومعنوي مرسته کړې، يوځل بيا مننه کوم او د لوی خدای (ج) په ستر دربار کې د دعا لاسونه لپه کوم چې خدای(ج) دي د تل لپاره خوشاله، سر لوړي، اوکامياب لري.

ستاسو کشر

شاعر شيکن خروټی

# ډالۍ

دهر هغه چا په نوم، چې ماته يې زما په ژوند کې تر بل هر چا ډېره مينه راکړې او د هر هغه چا په نوم چې دالله (ج) د رضا، د اسلامي امت دخير ښيګڼې او دپښتون قوم د ويښتيا لپاره قلم اوقدم پورته کوي.

په درنښت

شاعر شيکن خروټی

## اې خـــــــــــــدايه ج

ورځ تر قيامـــته کــه سرکېږدم په سجده خـــــاونـده
ستــــا د انعــام شـــــکر به نکـــړمه پـــوره خـــاونـده

ته يــــــې احسن الخالقـــين اوزه اشرف د مـــخـــلوق
زه دي په ديــــــن د محمد کـــــړم ښايسته خاونـده

تامـــې ترکيب کړل په بدن کـــې بند په بند هــډوکـــي
بيـــا دي ور واغوسته د غــــــوښــې نه جــامه خــاونده

تــــــــوره تياره وه بې نفرته پکـــــې هيڅ هــم نه وو
راتـــه رڼا کــــــــــړه ستا دمينـــــې نور سينه خــاونـده

که ستا بې ساري احســــاناتو ته ژوند ټــــول وقف کړم
ورنه به يو هم «شـــــيکن» نکــــــــړم نويښته خـــــاونده

## نعتـــــــــــــیه کلام

کـــــــــــړه بدرګه مــــــــــــې د دردونو د درمان تـــر کلـــي
خیاله یــــــــــــوځو قدمـــــــه واخله د جانان تر کلـــــي

په سر دځمکــــــــــــې حـــــــــــواديثو د دنیا وخـــــــــوړم
لکه زهرا مې ترې اوچت کـــــــــړه د اسمان تر کـــــــــلي

چـــــــــې یـــــــــې امت راسره ډېـــــره ناروا کــــــــوله
ورنه پنا وړم د نبـــــــــــي اخېــــــــــر زمان تـــــر کلـــي

زړه مې راډک شي، دجرس په دود سلګـــۍ مـــــــــــې واخلي
اوښکــــــې مې جوړې قافلـــې کړې د ګـــــریوان تر کــــــلي

دګنا غشـــــــــــــــي مې د یــــــــون په لاره تـــــــــل وروي
ولاړ بې شـــمیره شیـــــــــــطانان دي دایمــان تر کلــــــــي

«شیکن» ته وښـــــــــــــــایه د عشق د کـــــــــــوځو هغه لاره
چـــې پـــــــــــــرې رسیږي امیـدونه د ارمان تر کلـــــــي

**دښکلاګانو سپمبول ته**

نصـــیب مېلـــــمه درتـــــه راوړی یــمـه
ســـــتــا د امـــت د کهول غـــــــړی یمـه

لیږ مـــې دمـــه کړه د روضې په خوا کـــې
له ګناهــــــو نه ستــــــړی ستـــړی یمـه

راته نظر وکــــړه چـــــې ګل شــــم ګــله
د عشق ارمان یــــمـــــه نیمګــــړی یمه

لیـــږ مې د مینــــــــې په ژونـــد ونازوه
خالــــــي کـالبــــوت یم هســـې مړی یمـه

که مـــې شـړې که مـې رټــې جــانانـه
د ستـــــا اختیار یـمه تــــوی وړی یمــــه

په وېښه نشو «شیـــــکن» خوب کــــــــې راغلم
خـــــدایږو اوس هـــــم په بخت پیاوړی یمه

## پښـــــــــتنې ته !

ما ولیده په ځمکه کــــــرځیـــــــده د جنـــت حـوره
په تـــــــور حجاب کــې سپینه پښتنه د جنـــــت حوره

حـــــیران یــــــمه په کومو کلیماتو یـــــې تعبیرکړم
چــې ښنګه وه، اوښنګه ښکاریـــــده د جنــــت حـــوره

نه وېښ وم ، نه ویده وم ، په درېیم حــال کـــــې واقــع وم
له ورایه چـــــــې لیمو کې موسیـــــده د جنــت حـوره

خاموش ورته ولاړ وم، تهولې ژبې مـــې ګونګـــــــی شــوې
خـــــو بیا هـــــم په اسرار و، پـوهیـــده د جنـــت حوره

د چا د حیا ویاړ ته چې شملـــــــــــې وړو په سر جګـــــــې
سرتوره دې خدای نکـــــــــړي هماغه د جنت حـــوره

.

الهــــــام د غـــــــزل وشو چـــې مـــې وکتل اسمان ته
« شیکنه » په زړګـــي راخــــــوریده د جنـــــت حـــوره

## افغانستان څه وايي؟

افغانستان يمه، شيرين يمه ، مــامه خرڅــــــوئ
د ننګ د غاړې لونګين يمه، مامه خرڅــــــوئ

لامې بند کړي په وده کې څو سر زوري ديـــوان
دسليمان د لاس نګين يمه مامه خرڅــــــوئ

دډېرو تورو اژدهاوو مې مرۍ غوڅې کـــــــړې
دوخت اتل يم خان مومين يمه ما مه خرڅـــوئ

میړنی خاوره یم، پر غیږ کې مــې څېــرې روزلــې
مور د سيدجمال الدين يـــمه مامــه خرڅـوئ

غاښ ماتوونکي ګذارونه مــــې چنګېز ته ورکړل
ازغی د سترګو د ګرګين يــمه ما مـــــه خرڅوئ

د وخت په تبر ماتــــوي راته دتـــن هډوکـي
زه ورته سنګ يمه، سنـــګين يمه، ما مه خرڅـوئ

راپسې ګرځي سوداګر د سرو په تول مې اخلي
به يم، بهتر يم، بهترين يمه، ما مـــــه خرڅوئ

بدرنګوي مې، نړوي راته سينـــګار «شيــــکنه»
ما ورنه وژغـــوره ، حسين يمه، مامه خرڅـــــوئ

## غـــــــــــزل

يو داســـې وخـــت و، چـــې پښتون په پښتو سر مـــاتـاوو
يــو داســې وخـــــت شــو، چــې پښــتون دپښتو سر ماتـوي

ښکـــليه! مـــا داســــــې اياتونه د قـــــرآن په يـاد دي
ښکليه! چــــې چوف يې کړم د مړو سترګــــــو منتر ماتوي

دا ځـــــــينې ښــکلي په زړه نېـــغ در ننـــوزي عشقه!
دا ځـــــينې ښـــــکلي مخـــامـــخ د زړونـــو ور ماتـوي

چــې بــې پښتـــو شي، که سلګـــونه وي نوتېښته کـــوي
چـــــې پښتــو ولري کـه يو هـــم وي لښـــکر ماتوي

شېخان يــــې هم ګــــوري د سترګـــو له کونجونو څخه
شېخــــــان هـــم تل وربانـــدې تــنده د نظـــر ماتوي

«شيکن» نادان دی ، «شيــــکن » تل سپينـــې ويناوې کوي
«شيـــــکن» په شعر کــــې ز موږ زړونه اکــثر ماتوي

## ملــــــــي بېراغ !

زمــــا روح په ګــــډېدو شــــي زمـا تـــن ملي بېراغ
چـــې رپيږي په دې خـــــــاوره د وطن ملي بېـــراغ

په مرمو ســــوری، ســـوری دی ، لا ولاړ دی په میـــــدان
خوځوي زخمـــــي، زخمـي وزر خوږمن ملـي بېــــراغ

د يو توغ د سيــــــــوري لانـــدې به راغونډ شي پښتانه
په اتڼــــــــک او په جېلم به شـي، واکمـن ملـي بېراغ

د میوند ډګـــر به ګــرم شي د تـــــــورو په شرنـــګا
چـــې وړي هسک د ملالــۍ غـوندې ميرمن ملـــي بېراغ

مینـه ، مینـه ده د هر افغان په زړه کـــــــې ځـــای لـري
په «شيـــــکن خروټي» ګران دی د «شيــکن» ملـي بېراغ

## نظـــــــــــم

لا به تـــر څـوخپلو مینځوکــــــې سره ـــــ وهـــو یـــوبل ته په بریتو لاســـونه
چې بیا ونه رسي زمـــــونږ ترغــــاړې ـــ راځۍ! چـــې غوخ کړو د پردو لاسونه

له نــــــفرتونــــــــــو ځخه ستـړی ولس ـــــ هـــغه پښتـــــــو انا راوړی ولـس
د پښتنو بـــــــــــچو یـوالی غـــــــواړي ـــ ورته په سوال نیسي پښتـــولاسونه

دلته راغـــلي به واپـــــــــــس وشړو ـــــ دا خدای «ج» وهلي به واپس وشړو
هر مرور ته به خپــــــل ورور ووایـــو ـــــ ورته به کېـــــږدو په سینو لاســـونه

د قربانۍ د ډګــــــــــر سیال شهیـــدان ـــ شي به په قبر کــــې خوشال شهیدان
کړو چې راتېر په خورا مینه بانــــــدې ـــ د یتیمــــــانو په ســــرو لاســـــــونه

چې بیا پرې کوم زلمی په زړه کې ولي ـــ یاورنه ناوې ســــــور سالــــوکې ولي
الهي! وریت یې کړې او ویې سوځي ـــ د سرو ټوپـــکو په شپیـــــلو لاســـــونه

یوه ارزو لـــــــــرې «شیکن خروټي» ـــ هغه په دې خــــاوره مین «خـــروټي»
چا چې پرې چا ته لار د حق ښودلې ـــ ورته به ښـــکول ګړو د هغو لاســـونه

## ټوټه

وخته قاضـــــــــــــــي شه د انــصاف تله په لاس کې واخله
زمـــــــــــونږ چارواکــــــــــــي کابینـــه او پارلمان وتله

تر کــــــــــــومه حده سلامي د سـور صلیب کــوي دوی
ته یې پښتـــــــو، ته یې غیـــــرت، ته یې ایـــمان وتله

په کونډو، رنډو چـــــــې زړه نه ســــــوزي انسان به نه وي
ته خـــو یوځل د دوی ضمیــــــر د دوی وجـــدان وتله

له ولسواله، تر والي، ترمـل پاسوال، تر برید جنراله پـــــوري
تــــــــــول په یوه تله کـــــــې غله او خـــاینان وتله

که مناســب درته ښــــــــکاریــــــږي په سنګینـــه تیـږه
د «بت شیـــــــــکن خـــــروټي» دغه یو بـــــــیان وتله

دمیوندو اتله !

بېګا په خوب کې ډکې سترګـــــــــې راغله بیا مــــــــلاله
راته ژړل یې او ویل یې په ژړا ملاله

د پښتني تاریخ ویـــــــــــاړنه دې پردو ته ورکــــــــړه
هغه زما نامه دې بلې شابــبو ته ورکړه

چا چـــې میوند خرڅ کـــړی، چا چې پښتونخوا خرڅه کړه
د څو پیسو په مقابل کې یې حیا خرڅه کړه

ما وو شړلــــــــــــي انګریزان هغه یې خــوا کـــــې ناسته
په یوه میز ورسره لوڅ مخ په مېډیا کې ناسته

«شیــــــــــــکنه» دا ده خیانــــــت زه یــــــې غندنه کــوم
د خدای حضور کې به له هر پښتون پښتنه کوم

## اې غداره ګاونډيه !

ځان به پټ نکړې، د وختــــــــونو په تور تـــــم غداره
په سترګو ړوند نه يـم، ډېر ښه دې پېــــــــژنم غـــداره

د خـــپل زخمي، زخمي ځنګل درنه حساب غـــــــوارمه
د کــــــــنړ سيند يمه، ځـــــپې، ځـــپې درځم غداره

په غــــــــــرونو اوړم طوفاني شـــــوم، ولــــولې لرمه
غيږ کـــــــــې دي اخلم ، اباسيـن ته دې ور وړم غداره

اې د لستـــــــــــونې ماره، اې د شيـــــــطانانو وروره
ته د دوستي په نوم چېچل کـــــــړې په سيتـم غداره

ما له خيبره ستا د سر دوښمنان تــــــــــول وشـــړل
افسوس چـــــې تا راپســــــــــې راوستل بيا هم غداره

بيا به «شيــــــکن» دعوه د لــــــــويې پښتونخوا نکوم
که بند مـــــــــــې نکړې په اټک ، او په جېلم غداره

## غــــزل

چې دې ستا يې دا غزل ، غـــزل، ټپه ، ټپه ځــــواني
خامخا به شاعــران وي، زمـــــونږ زړونه ليــــــــوني

يا به وخيرې سينې يا به زخمــــــــي کړې خپـل رخســار
خانـــــــدې بيا په انګو د بڼــــو څـــوکــــې لــګوي

ته ويده وې چـــــې را ړنګ به دي اوربل شو په جبين
د سحــــــــر نسيم دې واخيسته مچـــــــکه له تندي

ځي کوم خــــــوا د باغ ارم بدر جماله ښاپېــــــــــرۍ
ورته وايه مه ځـــــــه، ستا سيف الملـوک د لته راځـــي

د دې کلــــــــــــي هر سړي تر يوه حده مينه د رکړه
«شيـــــــکن» هم د ستا په نوم کـــــړه لس کلنه شاعري

## غزل

یو ته یې او یو زه یم؛ خو دوه نور مخونه ښکاري
پدې ماته هنداره کې ځلور مخونه ښکاري

ځلور کاله مو تېر کړل دا ځلورو د یوالو ته
دا سوي انتظار یو چې مو تور مخونه ښکاري

پدې ورانو کوڅو مې د زړګي مینه ماتېږي
پدې کې مې د پلار او خوږې مور مخونه ښکاري

دا ولې وړې سترګې راته ګورې چې را ووځم
کاږه را پسې بیا لکه د لور مخونه ښکاري

توبه خدایه نن بیا د پښتنو خپلو کې جنګ ده
تک سره شول له غوسې نه لکه اور مخونه ښکاري

«شیکنه» د هجران په شپه وترهیدم دومره
چې پریوزم راته خوب کې لور په لور مخونه ښکاري

## ثنا په سرود او ساز

ور په غوږ مــې چې رباب ته کړو شهباز
هر یو تار شو په لـــــــړزان او اهتــزاز

له عاتف نه د نغمــــــــــو په پسته ژبه
د چاندېو وچ لرګـــــــي په خـــوږ اواز

نه پوهیږم پاکه خدایه «ج» چې دا څنګه
ستا نامه یـــــــــې په سلګـــو کړله اغاز

ما ژړل کـــړې یې سلګـــی را سره غبرګې
وو اعجاز که د سپیڅلـــــــې مینـــې راز

د الماسو نه سنګین زړګی مــې مـوم شو
لکه شمـــــــــــع تر سهـــــاره په ګداز

ځکه پاتـــې شــوې تسبیح رانه مسجد کې
چې شروع مــې کــړه ثنا په سرود او ساز

له تعبیر نه یې ناتــوان شاعر «شیــکن» یم
څه به وایــــــــــم هغه کیف هغه انـداز

## غزل

زړه مې را ویوست درته رامــــې وړه سینه په لاس کې
اوس خو را ډکه کـــــــړه د عشق یوه پیاله په لاس کې

ښکلیه! هـــــم تاته به مې دود وه ، که راوړې مـې وای
هېڅ مې ځلور کـــــــــونجه دنیا نه ځایده په لاس کې

تا چې سرې شـــــوندې د کتاب غـــــوندې را وسپړلې
د ژوندون هیله مــــې مسکۍ مسکۍ کېده په لاس کې

زه خو حیران یم هــــــغه څه دي، هغــــه څه ووګله؟
چــــــې دې راولویده سپوږمــــۍ ټوټه ټوټه په لاس کې

ما ته لومړی احساس د مینـــــــــــــــــــې زما مور راکړی
چې به یې راکړله د خپلـــې خــــولې ګوله په لاس کې

«شیکنه» ښکل یـــــــــــې کړه د پښو خاورې د شعـــر په ژبه
چــــــې دې قدم د الهام کېـــــــږدي پرښته په لاس کې

د زړه ور...

د سپیلني غونـــــــــــدې مې تاته شاعـــــــــــــري لوګی کړه
نور داســـې څه را سره نشته چـــــــې نظر پـــــــرې مات کړم

ستا مېلمستیا ته مـــــــــــــې په کلي بالښتـــــــــونه غوښتـــــل
د لته یو کاڼی چا رانـــــــــــــکړ و چې سر پـــــــرې مات کړم

زما د پاک قران دا دیـــــــــــرش سپـــــــــــارې ټولې زده دي
زړه خو مې غواړې ستا د مړو ستـــــــــرګو منتـــــر پرې مات کړم

یو لیونی مـــــــــــــــــــــې د ګوګل دروازې تل ټـــــــــــکوي
مورجانې! ورکـــــــــــړم اجازت که د زړه ور پـــــرې مات کړم

«شیــــــــــــــکنه» زړه د ي د الماسو د ټـــــــوټې غــوندې ده
کله نا کله د تیرو بڼـــــــــــــــو خنجر پــــــــــرې مات کړم

## لویدلې سپوږمۍ !

ورته راوړي وو، کــــوم ګل ، ګلـــــــونه
چـــې پر تندي یـــــــې زنګیدل ګلونه
پرون یې پښې د ګل په سر ایښـــودي
نن یــــــې ویده وو په اوربل ګلـــــونه
د کور واړه زاړه سلګـــــــــو واخیستـــل
چې یې په مـــخ را بدلول ګلــــــــونه
چا یـــــــې کفن اوچتاوو، له مخـــــې
چایې په څنـــــو کــې ټومبل ګلــــونه
ورسره کېږدئ څـو ګیډۍ لحد کـــــــې
په ژوندانه یـــــې خـوښیدل ګلـــــونه
یو ګل یې پټ کړو په سپیرو خاوروکـــې
نور یــــــــې په قبر وشیندل ګلــــونه
مونږ ورته ګــــورو، زمونــږ وس نه رسي
غیږ کــــــــې نیـــولي وي اجل ګلونه
که پوهیدای چــــــې جدا کېږي رانه
ما به د زړه کور کـــــــې ساتل ګلـــونه
«شیــــــــکنه» تا ورپســــــې ولــي ژړل؟
مرګـــــــــی خـــو وړي له دنیا تل ګلونه

**غلط يې مه تعبير کوئ !**

**د دې څـــــــومـره ګنـاه کېږي؟ د دې څـــومـره ګنـــاه ده؟**
**شيخه! تل يې غيږکې نيسم ورتــه ويښ يـــــــم ټـــولـه شپــه**

**څـــو غوټــې بــه راکــــــوي؟ پـــه جـهنـم کــې فـــــرښتــې**
**نن مــې بيا ورتـه سـرايښـی مـخامـخ وه پـه ســــــــجـده**

**په ځان پوه شومه محســــــــوس مــې کړو خوږوالی د ايـمـان**
**چې مــــــــې ښکل کړو په دا مخ بيا مـــې وربيرته کـــــړه سينـه**

**دوصـــــــــــال اذان تــــه نشـــومـه پـــه طمعـه تـر ماښــام**
**مـــا روژه د صـــــــبر ماتـه کـــړه پـه ټـــکنـده غـــــرمــــه**

**کـه په هوش شــــــــوم بيـابـه راوړمه ايــمـان د مـحبــت**
**اوس مي پريږده اوس مــــې خښـــلي دي په زيـاته پيمـا نــه**

**بيا د وخت قاضـي اعلان کـوي چې نور يـــې کـــــړئ په دار**
**«شيـــکن» ماتـه کـــــړه څـــــو ځلـه پــه تــوبـو پسې تــوبــه**

## سترګـــــــــې مه اړوه !

په مرګ باور نشتـــــــــــــه د لبره سترګـــــې مه اړوه
سر که راپورته مـــــــــــــروره سترګـــــې مـه اړوه

نن یوه شپه ده، چې ارمـان دې زړه کې پاته نشـي
نن راته ګـــــــــــوره تر سحــره سترګـــــې مـه اړوه

څوانـــــي د ژمــــــــــي ماذدیګر ده لکه باد تېریږي
له دې نیمګــــــــــړي ماذدیګره سترګـــــې مه اړوه

په ما به سپین سپین بېـــراغـــونه وړي راوړي بــــــادونه
چـــــــــــــــې راستنیږي مسافره ، سترګـــــــــې مـه اړوه

«شیــکنه» وشکـــــــــــوه پاسپورټ ویزه ته اور واچـــــوه
هیڅ نه جـــــــــــــوړیږي، له سفره سترګـــــې مه اړوه

## ســــــــلګۍ

د ژوند ورستۍ سلګـــــــۍ مې ولاړې د ارمان په غېږ کې
روح مې چې تلو سر مــې نیولی وو، جــانان په غیــږ کې

په اننګو مې اوښـــــــــکې د اســــــې ځلیدې حســرته!
لکه سپین ستـــــــــوري د سبا د شنه اسمان په غیــږ کې

ښار کــــــې د ښار خلکــو وېشتم په غټـــو غټـــو کاڼو
لیـــــــونــــی راغلم، شوم دمه د بیابان په غیـــږ کـــــې

ستــــــا په لمن زما د اوښــــــــکو ټـــــکي مه ورانــــوه
دا مــــې در پاتې شو، د مینې یــــــو نشان په غیږ کـــــــې

سفر ژوبلی زړه یې خــــــــورِ نشي قـــــرار یې کېږدئ
فردیس « شیکن » د بل وطـــــــن د قبرستان په غیږ کـــــې

## سپوږمۍ وزنګیده !

چـــې عرش وخوځیـــــدو، او دونیاګـــــــــــــۍ وزنګیـــــــده
د کوم یتیم په ستونـــــي کـــــــــې ســـــلګۍ وزنګیـــــــده

د جنګ جامې په تن د پښتــــــــــــونـــخوا ناوې سینګار ده
په غـــــــــــاړه یـــــــــــې د وینو غاړه کـــــــۍ و زنګیده

د بام په سر یـــــــــــــې ټوله غرمـــــــــه کړی انتظار وو
له خوبه ډکـــــــــــــې سترګـــــــــــــې لیونــــــۍ وزنګیده

دا کـــــوم یو خښې اچوې، دا کوم یو غـــــــاړه ورکــــــــړه
چـــــیـــنـــــــــار وزنګیدو، اوکه سیلـــــــــــۍ وزنګیـــــــده

تر ډېرو مــــــې کتل ورته خـــو ښنګه رانســـکور شـــوم؟
نظـــــــــــــر راڅـــــخه ولاړو که سپـــــوږمـــــۍ وزنګیده

«شـــیـــــکنه» ترهغـــو خـــــو و، ولاړ دوصـــال مـــرانـــدي
طـــوفان چـــــــــــې د بیلتون راغی کـــــیږدۍ وزنګیده

## خدایه پښتو سرتوره مه کړې !

لمر په زرينو لاسو ټولې کـــــــړې د شپې لمنــــــې
وخـت دې هم ونغاړې د ظلـــــــم دا اوږدې لمنـــــې

تقـــديــره واړوه، راواړوه دخـــــــداى [ج] په امـــــر
د را روانـــــــــــې او د تيـرې زمانـــې لمنـــې

بس دى، زړه سوى وکړه، پښتـــــون ولس نـــور تاب نلـري
اوس خــــــو رسيږې تر کـــوڅـو دهـــــديرې لمنې

دخپـــــــلواکې سپـوږميه څـــرک وهه را اوښايه مـــخ
ډېــــــرې اوږدې شـــــــوې دحـــالاتو دتيارې لمې

دپښتـــــــــو ناوې د يورپ زامن بربنډه نـــــــکړې
د خـــــــــيال په ګـوتـو يې ګنډم، ورته درنې لمنې

د «شيـــکن» شعره که دې ويـــښ نه کـــړل ويده پښتانه
په خـــــــــپلو لاسو به څـــــــــيرم، د کتابچې لمنې

## غــــــــزل

ته چې تلې ژیړې ځـــوانۍ درپســـې ولاړې
سره ګلـــونه او غوټـــۍ درپســــــــې ولاړې

ازادۍ په ماذدیګـــر دې کډې بار کـــــــړې
خـــــړې خـــړې بړبوکـــۍ درپســـې ولاړې

پســــــــرلي درپســـې کډه شول له کلـــي
د خـــــــزان سرې سیلـــۍ درپســـې ولاړې

ننګ دې واخیست د پښتـــون ټبر له قـــامه
څه درنې درنې پګړۍ درپســــــــې ولاړې

ګودر وچ شو، سور منګی تر خـــاورو لاندې
ملالـــــــۍ او شین خالۍ درپســـې ولاړې

«شیــــــکن» ډېر درپسې وکتل نا هیـــلي
په ارمان ارمان سلګۍ درپســـــــې ولاړې

## غـــــــــزل

دا يې کرم ، دا يې سوغات دی، د مــــــلالــو ستـــرګو
چـــې يــــــې راکړی ملاقات ده ، د مـــــلالــو سترګو

طبيبه خــــدايږو که ستا پلار مــې هم علاج وکـړي اوس
د زړه په ســــر مــــې ازغـی مات ده ، د ملالـــو ستـرګو

چارګل ، اوربل ، پيزوان ، نتکـــــی اويو شميــــر نور قاتلان
خـــــــو تر دا ټولو يـــــې زور زيات ده، د ملالـو سترګـو

پـــــرون يــــې رد کـړه نن تاييد کوي زما د مينــې
شيـــــــخ ته يـــې کړی التفات ده، د ملالو ستـرګـو

په يو نظـــــــر دې ګـــــناه نه کيـــــږي ور وايـې ږوه
د ا سر ســــــــايه ده ، او زکات دی ، د ملالـــو ستـــرګـو

کـــچـــکول په تـن ورځي «شيکن» د يو ديدار غـوښتوته
هلته بر کلي کې خيــــــــــرات دی، د ملالـــو سترګو

## غــــــزل

هغه ساعت شـــي را په زړه ستا په څنګـــــل خوبـــونه
کله چـــــــــې ســــرته تېـــږه، ږدم اومسافر ویده شـم

مـورې! چې تا به هـــــم زما په یاد کـــې دا ســــې کول
بیــــګاه زه هـــــــــــم ډوډۍ اونه خورمه ، نهر ویده شم

زه کـــــــــور لرم، خـــو دلته نه هلته په خپل وطـــن کې
د لته په څېـــــــــــــــر د یو ملنګ د بل په در ویده شـم

هغه کوچنــــــــــۍ خور مې چې غـوښتې وه، نانځـکه رانه
په دې سوچو مـــــــې شپه سبا شـي په سهر ویده شـــــم

هغه ماشـــــــــوم ورور به مــې اوس هـــــم یادوي او کنه
زه خویې اوس هم په سوچونوکــــــــې اکثـــــر ویده شم

د ځواني خوب چې کله سترې کـــــړي «شيکن» خـروټي
پښــــــــې را اوږدې کړم د رملو په بستــــــر ویده شم

## غـــــزل

بنګړي مات کړم، ټيکری واچــــــــوم ، سرتــــــوره وژاړم
په امبار دې شم د خـــــــــــاورو رانسکـــــــوره وژاړم

کور کـــــــــې نشمه ژړلی چـــــې دادا به شـــي غمګين
چــــــې دې راشـــــــم قبرستان ته ښــــه په زوره وژاړم

زړه مې نه څي خــو بيا هم چـــــې درنه څـــم په تور ماښام
خــــــورم ډغرې ستـــــــرګې ســـــرې لکه ميـخوره وژاړم

څــــــو ويرژلې خاطـــــــــــرې دې را ســره دي د ژوندون
کـــــــــتابو او تصــــــــــويرو ته دې لانـــوره وژاړم

يه سپيرې چــــــــې دې خاوند نکـــــړو په ټنډه باندې تم
کـــــــله کـــــــــله د ابۍ لـــــــــــه دې پيغـــوره وژاړم

ټوله لار درپســــــــــې سترګې غـــړوم چــــــې بيـرته څم
دمــــــــــــزار خړو جـــــــــــندو ته دې تروره وژاړم

چې دې پرېښودو تنها «شيــــــــــکن» ترې يودې وړل ياران
اې وطـــــــــنــه بلاخــــــــــوره بلا خــــــــــوره وژاړم

## غـــــزل

د دې تېول کلــــــــــي ښکلا درپســــــې مړه ده
نازولـــــــــــــى يې دونيا درپســـــــې مړه ده

اميدو درسره ګـــــــــور ته کــــــډې وکـــړې
زمــــونږ هيـــــله نيمه خـــوا درپســــــې مړه ده

خامـــــــوشې په لر اوبر باندې خـــــــــوره شوه
لکه تـــــــــوله شا و خوا درپســـــــــې مړه ده

د ستا وير ته مې په سوال غوښتـــــې څو اوښکې
څنـــــــګه وژاړو، ژړا درپســـــــــــې مړه ده

«شيــــــــــکن» کومه نامه ورکړمه غـــــزل ته
چـــــــــې موضوع او محتوا درپســـــې مړه ده

## ټوټه

په زړه زړه مې وهـــې د نجونو مېره په اتڼ کـې
دریا شوم له مودو خورمه ګـــــوزار د سرو منګولـــو

له وریت زړه مې ورډکه کړله لپـــــه د نکــریـــزو
د زړه وینې مې بیا راغلې په کار د سرو منګـولـو

یو چا زما د مرګ لامل څه داسې کړو په ګــوتـه
نصیب یې نشوه سره جوړه، او یار د سرو منـګولـــو

روان دی، د واده زلــــــمی جامې د سفر اخلي
ډوډی ورته پخیــــــــږي په سهار د سرو منــــګولو

«شیکنه» په والله که په دوبـــی کې یوه دوه کړې
وطن کې درته چاکـــــــــــول هزار د سرو منګـــولو

مېلمنه !

په ټټر يې وې روپـــــــــــۍ د سپينو زرو
په سينه يــــــــــې وو، اميل د ملغـــــلرو

چـــــې د لر وه که د برې پښتونخـوا وه
غرڅنــــــــــــــۍ مالـــــومېدله ، له خبرو

چـــــې ورګډه شوه ، د پېغلو په اتڼ کې
سم دواره يــــــې شروع کړه، په سنـدرو

لـــــــوی واړه ورته ولاړ لاس په سلام وو
مېـــــــلمنه دلته راغلــــــــې وه، ملګـــرو

تور اور بل يې خوشبو يې کـــړه د لـونګو
که په غـــوږ کې يې پومبې وې د عطرو

«شيـــکن» هم په مېلمستيا کې ميــــړنی و
يو غټ چـــرګ يې ورته ونيــــــو تر وزرو

## دشملو وطـــــن

که راځـــــــې د پښتنو وطـــــــن ته راشـــه
د پګړيو او شملــــــــو، وطـــــــن ته راشـــه

چـــــې په غيرډ کې يې روزلي توريالــــي دي
د ملالـــــــــــې او نازو، وطـــــــن ته راشـه

چې سرو ته يې له سره پګـــــــړۍ لويـــــړي
د دې د نـــــګو، د نــــګو غرو وطن ته راشـــه

کړې تحليل د هرې ستـــــــــونزې په خبـرو
د حجـــــــرو او دجـــرګــــو، وطـن ته راشـــه

پکتيکا کې چې مېښته دي لـــــور په لـوري
د خــــــروټو پــــــــــــرګنو وطـن ته راشه

چې په چا کې قدرمن وې مسافــــــــــــــره
بيا «شيــــکنه» د هــــغو وطـــــــن ته راشه

## ورک تصویر

بېقراره پســـې کـــرځم، بېقـــراره پســــې ځـم ځـم
له دې کلــي رانه تللی، تر دې ښاره پســــــې ځـم ځـــم

یو تصویر و، بـــــــې زبانه، چا راکــــــړی و، یاد ګـار وو
په دې لاره رانه ورک شـــــو، په دې لاره پســــې ځم ځم

ګوندې بیا چېرته مونده شي، پکې وګـــــــــوره یوځـــلي
زه راوړم درته هنــداره، په هنـــداره پســـــې ځــم ځــم

دا احسان به یې هېر نـــــکړم، چــې یې تــــل را یادولـــې
ستـــا خاطر را باندې ګران دی، ستا د پاره پســـــې ځم ځم

دا ترخـــــې لمحــــــــــې د صبر نــورې نشمه زغملی
نور مې پرېږده، نور مې پریــږده، انتظاره پســـــــې ځم ځم

هـــا چېنه اب حیات شوه، «شیکن» تږی فطـــرتي یـــم
تېوله شپه یې په خوب وینم، تر سهاره پســــې ځـم ځـــم

## پراتــــــــه !

لکه دوخـت سیلۍ په ملا مات کـــــــړي واښه، پراته وي
پـاڅـــېږي نه، دا خـلک تـل داســـې پراته پـــراته وي

مـــوږ ورتـــه هســـې نغـــارې د انـقـلاب ډنګـــوو
چـــــې ولسونه مو د فيل غوږ کـــې ويـده پراته وي

دا چـــــې هر وخت مــو رهبــران تـرې ناخبره ساتي
چـــــــې د دې بندو دروازو تر شـــــا به څـه پراتـه وي

دا تش په نـوم د پخــــــــلاينــې ډرامــــــه څـه مانا؟
تر څو چــــــې يو بل ته مورچه کـــــې پښتانه پـراته وي

دومره څـــوک نشته، چـــــې يـتيم ته د پلار مينـه ورکړي
پريږده، چـــــې ګل ګل ارمانونه يـــې په زړه پـراته وي

هغـــوی به څه د دروند پړوني په ارزښـــــت پـوهـېږي
دا چـــــې پرمټو يـــــــې خــواره واره ، وېښته پـراته وي

«شيــــکن» به خنـــــــګه چاته وکړي د لته سپينه وينا
چـــــــې د حالاتو تور قلفـــــونه يې په خوله پـراته وي

## شاعـــــــــــره

ډېــــــر کلـــونه بـــدل شـــوي دي شـــاعـــره
رواجـــونه بـــــدل شوي دي شـــــــاعــــــره

ته په داسې وخت کې خپل وطن ته راغـــلې
چــــــې نرخــــونه بدل  شـــوي دي شاعـــره

نور په تــــــــور ماښام کــــــې مه راځه ملنګه
اوس وخــــــتــونه بدل شوي دي شاعـــــــره

هغه دنګـــې ماښـــــــــې وخــــــــوړې بارودو
هـــا کـــــــــورونه بـــدل شوي دي شاعــــــره

د شپېلۍ په ځای راځـــــې ترې غږ د بم، بم
هـــغـــه غــــرونه بدل شــــــوي دي شاعره

دا چــــــــې نه سوځي په حــــــال د غريبانو
دا مــــــــو زړونه بـــدل شـــوي دي شاعـــره

ماتې ماتې مې پرتـــــې دې په زړه هيــــــلې
ارمــــانــــــونه بدل شـــوي دي شاعـــــــره

له هر بيته يې «شيکنه» وينې خـــــــــــــاځـي
ستا شعـــــــرونه بدل شـــوي دي شاعــــــره

## دغزل ښاپیرۍ

چـــــې خاطـــرې مــــې د ژوندون درته یادیږي که نا
اوخوره قســــــــم وایه رښتیا زړه دي خوږیږي کــه نا؟

کله ناکله مــــې چــــــې پــــورې دروازو تــه ګــوري
له تورو ستـــــرګــونه دې اوښــکې رابهیـــږي کــه نا؟

کله چې سر په بالښت کېږدي وایــه څـــــــوک یادوي
درته د میـــنــــــــــې لیــــونی پــه زړه وربږي که نا؟

چې ماشومان درته په کور کـــــې زما نـــــــوم یادوي
لکه جنــــده دې بــــــې اختیاره زړه رپیـــږي که نا؟

چـــــــــې انتظار به دي کاوه ورتــه اوس نشتــــــه هغه
اوس هـــــــم په هغــــه مخــامخ کنډو دریږي که نا؟

د غــــــزل مســـتې ښـــاپیرۍ تـــــه راتــه دا ووایه
لکه الهام د «شیـــکن» زړه باندې خوریـــــــــږي که نا؟

## غزل

خومره چې زه ژاړم دومره ته راسره وژاړه
راشه مسافر نصیبه ښه راسره وژاړه

زه به لکه تالنده په کړیکو کړیکو چیغې کړم
ته لکه باران په پټه خوله راسره وژاړه

دواړه مسافر یو، دواړه لرې له وطنه یو
یو بل ته کوو دغه خواله راسره وژاړه

نن مې غبرګې، غبرګې جنازې د ارمان ووتې
نن؛ خوراته کینه څه ناڅه راسره وژاړه

شور کوي دردونه مې ویده کړه، دمنتر په زور
دروی راته ووهه پاړه راسره وژاړه

کړنګ وهه جرسه توره شپه له ستوني ونیسه
ویښ مې کړه خوبوړي پښتانه راسره وژاړه

راشه په هر غم کې را شریک شه د «شیکن» غوندې
زړه مې د زړګي شه لکه زړه راسره وژاړه

## غــــــــزل

لټــه مـــې مـــــه نیســه، اشـــنا لټــه کـــې
نه چـــې در واچــــــوم زړه ستا لټه کـــــــې

چـــــــې مسافــــر رخصـــــــتېدي له کلــــي
درتــه لوګــــی مـــې کــــــــــړه دونیا لټه کـــې

خــــوېندو ژړل تـــــر دروازې درپــــــــــسې
مــور مــــې نېــــولې وه ، دعــــا لټــه کـــې

سهار مــــې لا ســــو کې تنهاکـــــــې وشــوې
اوښکې مـې تویه کـــړې بېـــــــګا لټه کـــې

نن یـــې د وران ارمـــان کیـــــــسې کــولې
نــن مــــــې تصویــر و، په ژړا لپـــــه کـــــې

خدایه(ج) سفر یـــې بـــــې خطـــــــره غواړم
خـــدایه(ج) خیر واچـــــــــوي زما لټه کـــــې

یو ځل یې ښــــــــکل کړه بیا ورځه « شیـــــکنه »
وي رحـــــمتــــــو نـــه د بابـا لپــــه کـې

## د پښتون خاوره

بــې سر پرسته شوم، بې نومه بـــــــې نشانه يمه
د پښتون خـــــــاوره يم خر څېـــــړمه ار زانه يمه

لامـــــې جوړ نه وو، په ټټر باندې زاړه زخـــــمونه
لاپه ګوزار پسې ګـوزار خورمــــــــه حيـــرانه يمه

نارې مې وکړې خو هيڅوک مې د پوښتنــــــــې نه و
د زمانـــــــــــې سيتم نيولې له ګـــــــريوانه يمه

تورې تيارې دې د حالاتو پام کــــــــوه پښتـــونه
ته به له مانه ورک شـــــــي زه به ورک له تا نه يمه

د پښتـــو اصــــل، نسل دواړه ختمـــــــوي «شيکنه»
د وخـــــت جابـــــر سره په دې خبــره ورانه يمه

## غــــــزل

نه ژبه د اظهار شــــــوې، نه دردونـــــو ته تعبيــــر شوې
زما د غــــــــزل خياله دومره زر ولې منـــــــــکر شوې

په کـــــــــــــــومه خوله انکار کـــوي د مينې له اعجازه
تـــــوبه داسې به نه وايې، تــــــوبه، تـــــوبه کافر شوې

اخيـــــر مې وژباړلې دغـــه ګونګې، ګونګې اوښـــــــــکې
اخيـــــر رانه څرګند شولې، اظهار مافــــــــي ضمير شوې

قاضيان شوو، د دې عشق قضيـــــــې مو دومره وڅېـــــــړلې
زه هــــــــم په کې بلد شوم، اوته هم په کې ماهر شوې

هغـــــــــه ساعت به ځان لکه منصـــــور مرګـــي ته ورکړم
د يار د زلـــــــــــفو لړه، که مـــــــــې غاړې ته ځنځير شوې

د زړه په زور په ماتــــــــو پـــــــــښو روان يمه، منزل ته
زه څـــــــــه سترې سيار يـــم، اوته سترې مسيــــــر شوې

چـــــــــــې کله مـــــــــې ليدلـــې کرامت ، دستا د سترګو
منم که ولــــــــي نه يې، خالـــي هم نه يې، لوی پير شوې

منل دې نه اوس داســــــــــې بند په بند تـــــړلی نه يې
«شيکنه» د کـــــــــــــوم خيال په زولنو باندې اسيـــر شوې

## یتیمــــــــــــــان

ملګرو بیا مې سترګې ســـــــرې دې خوب مې نده کړی
پدې ګاونډ کې چې د شپـــــې یتیمان چیغـــــې وهي

څومره بې وسه مېنــــــــــــــــدې ناستې د زامنـــــو سرته
څومره ناهیلـــــــــــــــــــې بې اسرې یتیمان چیغې وهي

له دې جونــــــــــــــــګړې هر ماښام یوه بوډۍ را اوزي
پســــــــــــــې له شاتر د روازې یتیمان چیغـــــې وهـي

دوی د اختـــــــــــــــــر په خوشالو کې هم خنــدلي ندي
ځي د بابا تر مقبــــــــــــــــــرې یتیمان چیغــــــې وهي

«شیـــــــــکن» سر کېــــــــــــږدي په شاعر قلم اوښه وژاړي
چې سر ببر ځیرې جامــــــــــــــــــې یتیمان چیغــې وهي

## مړشوی شاعر

نن مې خوبولی و، په غیـــــــړه کـــــې
بیا مـــې هغه ښکلی و، په غیـــړه کـــــــې

نن تر ټولو خلکـــــــــو بختـــــوره وم
بخت مې ځلیدلی و، په غیـــــړه کـــــې

ځکه له اسمانه راکتل سپوږمـــــــــــــۍ
ستوری مـــــــــې ختلی و، په غیړه کــــــې

یو زړه مـــــې ساتلـــی په سـینه کـــــې و
بل زړه مې نیـــــولی و، په غیـړه کــــــې

ورو ـ ورو رپیـــدو خـو څه یې نه ویـــــــل
ډېر مـــــــــې ویریدلی و، په غیـړه کـــــې

تلې راتلې ورمـــــــې د پـــــسرلي پســــې
ګل مـــې ټوکېدلـــــــــی و، په غیـړه کـې

د لته یو شاعر و، د «شیـــکن» په نـــــــــوم
مـــــړ و، چا ویشتـــــلی و، په غیـــړه کې

## غـــــــــزل

په تار پېيلې ملغلـــــرې د بڼـــــو په څـــوکـو
راغلـې څو اوښکې مسافرې د بڼو په څـــــــــوکو

ښـکاري اشنا ستـــــــرګې به نه رپوې ډز اونګړي
بیا دې راپنډې دې کوترې د بڼو په څـــــوکـــــو

په پستـــــو ګوتو یې راوخله په قرار یـــــې کېـږده
نه چــې ور ماتې کړې وزري د بڼــــو په څـــــوکو

ګونګی مـــــرغۍ زما اوستـا په ژبه څه پــــوهیږي؟
وکړه په سترګو کې خبـــــرې د بڼو په څــــــوکــــو

د زړه چینې دې تشې نکـــــړې که غـمـــي اووینې
راځې دیوان پسې له لرې د بڼو په څــــــــوکـــــو

په «شیکن» ستا دبېلتانه غمـــــونه سرګرځــــــــوي
ګرځي یې سرې داور بځـــرې د بڼو په څــو کــــو

## تــــــوتــــــې

مونږ د الفت لیوني ښکلي د پیســـو لیـــونـــي

ګـــرځو د یوبل سره ګډ په زیـارتو لیـــونـــي

د دغــې لارې مسافر ولــــــــي په کاڼــو بانــدې

خلک خــو ځکه ترې کلک په ځنــځیرو لیــوني

((((((((((((((((())))))))))

په جدا یـــــــې دې ځمکه پـــــورته اسمان ښکته راغـــی

زه یې شاهد یم په اوبو کــــــــــــې مې سپـــــوږمـــۍ ولیده

تنها «شیکن» ته احساس نه شوې ستا مهجــــــــــــــــورې شیبــې

کنـــــــې خفه وه ، ماچـــــــــــې توله دونیاګـــــــــــۍ ولیده

((((()(()((((()))(()((()(((((())))))))))

ښه و، او که بد اوس خــــومې هېر کړلې

ژونده په سلګو سلګو مـــــې تېر کړلـــــې

ستا دومره مودې وشـوې په بل وطـن

نوره مې اشنا په مـــــړو شمیر کـــــړلې

((((()(())((((((()))(())((())(((((())))))))))

چـــــــې موتل ورپسې هیلـــو اقتدا کـړه

هغو هـــم د خـپل مسیر لاره خطا کړه

تر پـرونه خــــــــو همـدا یـوه کعبه وه

شیخه نن دې چې په خپله ورته شا کړه

((((()(())((((((()))(())((())(((((())))))))))

ته مـــو د زړنو دکـــــنړ په وير ژړا مــــــه کـــوه
ته دې د سترګـــــــو پاکستان نه مزايل مــــــه ولـه

زمـــــــونږ په پوله باندې مېشته ګاونډی دوښمــــــنه
کـه د ځـان خيــــــر دې په کار وي نو کابل مــه ولـه

(((()(()((((())(()((()((((())))))))

هر سهار پکې اعلان د مرګـــــي کـــــــيږي
زما کور کلي له غمه نه خــلاصيــــــــــږي

هغه چم ته به اختر څه خـــــــــوښې راوړي
چــې سلګونه جنازې تــــــرې اوچتيـږي

ښاغلیه مشره !

هغوی راغلي دي زمونږ د قتل عام په مـــوخه

ته پرې وطن جوړوي ته پرې خدمتـــونه کوي

راشي زمونږ د کور انګړ ته له ټـــــوپــــکه سره

ستا مېلمانه ماته زما د مرګ ګواښــــــــونه کــوي

((()))(((((()))(()))(()))(()))((()))(()))((()))(())))((()))(((()))

چې ما له ورور او ورور له ما بېل کړي څو داســـې کرښې

زه پــــــــو هیدم چې په ډیورنډ بانـــدې اوباسې کرښې

څه د قـــــــــران توري خــــو نه و، اې د وخت مداري

ولي کافر شوم چـــــــــې مې نه منلي ستاســــــــي کرښې

لارکې راته ناسته ده ، بنګړي غــــــواړي
بيا مــــــې ليونــــــۍ مخه نيـــولې ده
مونږ هم صلاحيت د پـــــر مخـتـګ لرو
هســـــــــې مونــــړۍ مــــخه نولې ده

د لته په کـــــې پټه شـــوه او ورکه شوه
دې تورې کيږدۍ مخه نيـــــــــولې ده
تل به په تيارو کـــــې ستا ديدن ته تلم
نن خو مې سپوږمۍ مخه نيـــــولې ده

شـــــــــــړک وهه بارانه راڅپه يـــې کړه
دې دنګــــــــې بلـــۍ مخه نيـــولې ده
تل زما په سر ورسره شخــــــــړې کړې
تا مـــــــــــې د ابـــــــۍ مخه نيولـې ده

بيا باسي وېشلې دفـــــــــرديس په نـــــوم
بيا يې د تبـــــــــــــــــۍ مخه نيولې ده
ياد مـــې کـــړه « شيکنه » په غـزل غـزل
چا د شاعـــــــــــــــرۍ مخه نيولې ده

## مین!

لېونـــــی په لیونــــي بانــــــدې مـیـن دی
دا سړی په دې ســـــــــړي باندې مـیـن دی

ښکولوي یې تل دخیـال په نرمو شـــــــونډو
نری درد مې په زړکـــــي بانـدې مین دی

چې مې نه پرېږدي او ګـرد راپســــې ګرځي
د یار غم مې په ځــوانـــي بانـدې مین دی

چې دې چیغې مخ ته، مخته ، مخته کېــــږي
هغه څومره په مرګـي بانــــــــدې مین دی

هـــــر پښتــــون د پښتنـــــې شیدې رودلې
هر پښتـــــون په ازادي بانــــدې مین دی

الهام ټینګه غـــــــــــــاړه بیا راکړه « شیـکنه »
اوس مې هم په شاعــــري بانـدې مین دی

## غـــــزل

جانان تر بور دی ، جا نان سیال دی او که څــه بلا ده
هر یو انداز یــــــې کلیوال دی، اوکه څــــــــه بلا ده

په یــــــــــو نظر سره زړه اخلـي د بڼـو په څــــــوکـو
څه جادوګــــــــــر دی، دبنـــګال دی، اوکه څه بلاده

د زړه په لپه کـــــې مــــــې مـري، د یار د مینې للمه
د دیدنونو پشـــــــــه کال دی، اوکه څـــه بـــــلا ده

د اور سکــــــــــروټې پســــې وړم، د حافظــــې لمن کې
د جدایي د غــــــــــــــزل خیال دی، اوکه څه بلا ده

ویل یـــــــــې نه کــــــــېږي یاري زما اوستا« شیکنه »
دوی په کاهین کتلـــــــــــــــــی پال دی، اوکه څه بلاده

افسوس غربته !

که مې اورې د دې سترې زړګـــې چېـــغه
تور کړنګه انګازه راپسې وکړه

امیدونه مـــــې د سینـــــد په اوږو بار کــــړل
کډه وړمه اجازه راپسې وکه

چـــــــې فناشم د کنډو نه دومــــــر ه مه ځه
انتظار یوه لحظه راپسې وکړه

چې دې ووېشتم اومړ دې کړم په ستـــــرګو
اوس ؛ خوراشه جنازه راپسې وکړه

د اسقاط اودکفن پیســــــې مې پـــــــور کړه
کور په کلي درویزه راپسې وکړه

هسې نه چې مــــــــــې مرګی د لارې خنډ شي
ځو نفلونه په مزه راپسې وکړه

که «شیـــــکن» دې شومه یاد وروسته له مــــرګه
بیا د تور لحد ویزه راپسې وکړه

## اې سړیه !

ته ملامت وې تاته څــــــه ویل وجــدان سړیه
تا به کتلې وې هنــــــــــداره د ګریـــــوان سړیه

څه شوې د ستا هغه وعدې چیغې مې اورې کنه
اې ! په لسم منزل کـــــــې ناست د پارلمان سړیه

ستا نازولي بچي سکـول ته پورنر کـــــــې راځي
مونږ د چراغ تیلوته ګورو حق حیـــــــــران سړیه

د شهید نـــــــــاوې یتیمان بچي نهر ویده کړل
تا به خدای ( ج ) نه ښنې زمونږ دکلـي خان سړیه

سبا اختر دی ، دا زړې جامـــــې هغو ته ورکــــړه
هله راپاڅیږه ځواني وکـــــــــړه ناځـــوان سړیه

«شیـــکنه» تاته ملنګانـــــــــــو دا دعا کــــړې ده
ستوری د شعر به دې ځلیږي په اسمـــــان سړیه

## زما ملګري !

خیال د لارې مل شي، او خـــوبونه مې ملګري شي
تاته چـــې درځم د ستا یادونه مـــــــې ملګري شي

خـــړیکه شم په خپلــــو پرهـــــرو باندې تاویږمه
غـــم ته غاړه ورکــــــــړمه دردونه مې ملګري شي

کله مـــــــې زړه وغـــواړي چې وژاړم وطن پسې
اوښکې خومې خپلــــې وې اهونه مې ملګـري شي

یو په لاس کې اخلـم او دا بل ور بانـــــــدې ولمه
شم چې لیونی کاڼي او غرونه مـــــــــې ملګري شي

اې! د غربت ژونده که یوځو ورځـــې دې پرېښودم
ګورې به چې ځومره ولسونه مـــــې ملګـــــري شي

بس چې نیمه لاره کې مې پرېږدي مطلبـــــــي یاران
واخلمه قلم «شیکن» شعرونه مـــــــــې ملګري شـــي

*بلاخور وطن*

وبه خـــــــــوري د ګـل غونډې ځواني کــور ته راځـه
وروره ، څوک دې مړ نه کــــــړي وختې کـــور ته راځــه

د لته انقـــلاب دی، روغ رنځور په کــــې مالــوم نه دي
هره ورځ سلګـــــــونه ژني مـــــــــري، کــور ته راځه
ناستـــــــه او ولاړه له نا اهلــــــــو ســـــره مه کــوه
څـــــوک به دې ککـــــړ کـــــړي په بدې کــور ته راځه

پرې يې ږده زمونږه له د غــــــو خلکــو سره څه کار دی؟
وبــــــه ژاړو خـــــــــــپله غـــــريبـــــي کــورته راځه
د لته د انســـــــــان په سر قيـــــــمت لکه نيـــلام لګي
دغه سوداګر دې خر څـــــــــــــوي کـــــــور ته راځه

نوی زلمی شوی يې، په ځان بانـــــــــــدې دې پـام ساته
اې! دوخت سيلـــــــــــۍ دې رانه وړې کـــــــــورته راځه
تل در پسې زړه خـــــــورمه «شيــــکن» دې لارې څــــارمه
تل درپســــــــــــــــې مرم په يومرګــي کـــــــورته راځه

## دځواني خوب

خوب ده زړګیه که همـــــــــــاغه لیـــونۍ ویده ده
اوګوره نن شپه دې په غیږه کې سپــــــوږمۍ ویده ده

دا تور اوربل یې سیلــــۍ وړي راوړي په سپینه ټنډه
بل یې په سرو شونډو پیـزوان سره نتګـــۍ ویده ده

د بېلتانه له شبګیـــــــــــــرونو څخه ستـــــــړې ښکارې
خــــــــوره وره دې په زنګـــون لکه کږدۍ ویده ده

نن تر سهاره شپه شبګیــــــــــــــــر کـــــړه په کتلو ورته
تنها یوته یـــــــــــې نوره ټــوله دونیاګـــــــۍ ویده ده

شونډې یې رپې په سلګـــــــــــوکـــې د چانـــوم یادوي
له کوم دیوان نه ترهیدلـــــــــــــــــې ښاپیــرۍ ویده ده

ملک د پښتو دی، تهمتــــــــــــــي نشم «شیـــکن خروټی»
لا یې د ورور د تور ټوپـــــک خوله کې مرمۍ ویده ده

## غـــــزل

خومره په خوند، خوند د دردونو نه مچکـــــــه اخلم
شــــونډې مې سوځې د اورونــــــو نه مچکه اخلم
کله چـــــــــې ډېر شي زورور، دلیـــــونی یادونه
بیا د پیالو او شـــــــــــــرابـونو، نه مچــــکــــه اخلم

هلته را یاد شـــــــــــــي له غوټیو نه تنکي اننګي
چې په سپرلي کې د ګلـــــــــــــونو نه مچکه اخلم
چې کله نه یې بیا دې هم وم ، بر خمن له مینــــــې
ستا له خاموشــــــــــــــه تصویرونو، نه مچــکه اخــلم

په کـــــــــــــــوم کنډو به چې ولاړه وې زما لیدو ته
د هغه کـــــــــــــور له دیوالونو نه مچـــــــکه اخلم
ښکلیه! دا هم ستا هر سیتم ته احتــــــــــــــــرام لرمه
چې د خــــــــــپل زړه د پرهـــــــرونو نه مچکه اخلم

کله چې پوه شوم چې په دې کې جنتــــــونه پټ دي
مورې! د ستا له قدمــــــــــــــــــونو نه مچــــــکه اخلم
په هر یو بیت کې یې ستا یوعلم یادونه نغـــــــــــاړم
« شیــــــــکن » مې ځکه د شعرونو نه مچـــــــــکه اخلم

**اې ځوانه کار وکړه !**

**د کونډې زویه په کـــــــــوڅـــو مه ګـرځه کـــــــــور وساته**
**واخله بېلچه چېــــــــــرته مزدور، شه بوډۍ مــــــــور وساته**

**چې ځنــــــــــې غـــــوړې ګرځـــــــوې په لار زلفان سمــوي**
**ته اوس د کلــــــــــي د خـــــــــــانانو ســـــــره ځان سمــوي**

**ستا ماشـــــــومـــــــــان وروڼه به څنـــــــګه اینــده پیـــژني**
**نه یـــــــــــــې ښوونځـــــــــــی لیدلې ده، نه مدرسه پیــــــژني**

**ستا پېغلې خــــــــــــــــــــوندې شین سهار ځي، بیا راځـــي مازدیګر**
**راوړي په سر د غـــــره له سر کــــــــــــــــــــور ته لرګي، ماز دیګر**

**چـــــــــــې ستا د پېغلې خور په پاکه لمـــــــــــــــــن تور ولګي**
**بیا دې د ستــــــــــــــا په اړولي کاکــــــــــــــول اور ولګي**

**بل ته لاس مه نیسه که خـــــــــــــوري یې په دا ګلو لاســـــــو**
**یو ټوک ډوډۍ ځان ته پیدا کـــــــــــــړه په دا خپلو لاســـــــو**

**دا نصیحت وګڼه ، بل منظـــــــــــور بیـــــــــــــــخې نلري**
**«شــــــــــــیکن» خـــــو چا سره ذاتي تر بور ګنــــــــــي نلري**

## غـــــزل

څه غریبي او څه د خلکـــــــــــــــــو پیغورو راوړمـــه
پردي وطن ته یې په تـــــــــــــــورو، تورو غرو راوړمـــه
درنه دوبۍ ته د نصیب سیلـــــــــــــــۍ په سر واخیستـم
لکه کاغذ یـــــــــــــې د ایـــــــــران په ګــړنګو راوړمـــه

ساقـــــــــي احســـــــــان دې نه منم، وم له اوله نشـــــه
تر میقدې خو د یار غـــــــــــــم په زنګیــــــــــــدو راوړمه
شاید د ستا بنیــــــــــــــــرو وهلی، لیــــــــــونی به یمه
وروښو تړلــــــــــی تر ملا په ځنځیــــــــــــــرو راوړمه

ستاسو کـــــــوڅه د کلي خـــــوږ دی، پکې پام غلط کړي
خــــو په ماښام مې ترې ماشــــــوم زړه په سلګــــــو راوړمه
لیـــــــــــوني زړه مې چې در پاته شــــــو نو مه یې راوړه
زه به تر کومې لیــــــــــــــــونی په لیـــــــونو را وړمـه

د وخت قاضي به مې سر غوڅ کړي که اظهار مـــــې وکړو
د مینــــــــې نوم دې که دې شـــــــــونډو په ســرو راوړمه
«شیـــکن» شپونکــــــی وم ، د هیـــــواد په سردرو ګـــرځیدم
د شعر دونیا ته خــــــــــــو د خپـــــــل زړګي دردو راوړمه

## غــــزل

راته الهام راوړي د مينـــــــــې ملايكــې ستـــــــــــر ګې
چې زمبوي لکه پيالې له ميــــــو ډکــې ستــــــــرګې

بيا راته مه ګــــــــــوره په غــــــــم به ســـره نه اړوو
چېرته مو بيانشي د خيـــال دونيا کــــې ورکې ستـــــرګې

داسې ګوزار کــــــــــوي او دومـــــره په هـدف لګيږي
چې ماتوي د زړه هنـدارې په سينــــــه کـــې ستـــرګې

توبه، توبه د خدای (ج) قدرت ته ســـــــــړی فکـر يوسي
دا تور ازغي، ازغي باڼه تر ګل نازکـــــــــــې ستـــــرګې

د ځواني خوب وي دواړه ستــــــرګې مې درنې غوندې وي
چې راشي غم وتښتي خـــوب، اوشي مې سپکــــــې سترګې

«شــــــيکن» به ستا د لمرين مخ په رڼا څه پــــــوهيږي
چې شوپرک غوندې يې کار کوي په شپه کې ســــــــترګې

## قطعه

په ماتېدلو یـــــــــــــې نړۍ ستړې شوه
پښتـــــــــــون ولس په دونیا زور اخستې

خومره چې خـــــــوک ورسره سر جنګوي
هومره یې شرنګ د تورې شور اخســــتې

افسوس چـــــې خپلو کې وحدت نه لـري
ریبي یو بل پســــــــــــې یې لـور اخستې

ماته ارمان راشـــــي د دې خبـــــــــرې
چې یې له خپلـــــــــــې لمن اور اخستـــې

## غزل

ماشاالله لرې ځواني څه ړنګه بنګه اشنا
جوړ ذوالجلال په قدرتو يې غنم رنګه اشنا

ټوټې، ټوټې دې کړم زرې، زرې را ولويدمه
درپسې پرې وتم د مينې له کړنګه اشنا

د بادشاهي لايقه ياره، په قيسمت دې ژاړم
پيوند، پيوند جامې، په تن زما ملنګه اشنا

څنګه دې شونډو باندې راغلې د الفت خبرې
دا دومره لويه فيصله دې وکړه څنګه اشنا

ملک دې پښتودی، بې له دې مې خپلولی نشي
مينه ته رنګ ورکړه د سرو وينو له رنګه اشنا

په تا ژوندی يم «شيکن» ستا غواړم، ستا ژوند غواړمه
نور که ولاړه وې، که شي دنيا را ړنګه اشنا

## دنیــــــا

د غــــــه په مــــــــا اوتــا ودانه دنیا
نن یا سبـــــــابه شـــــــي راورانه دنیا

د اسرافیل شپیـــــړ ته ځان جـــوړ وي
په نا مالـــــــــــــوم جهت روانه دنیا

تا ته به ښنـــــګه خـــــوشالي د رکوي
ګرځـــــــــــي په خپله سر ګـــردانه دنیا

ښنګه چـــــــــې لاړل تا نه مخکې خلک
داســـــــې به پاتـــــې شي له تا نه دنیا

د مرګ نه پـــس به دې د بل مېرمن شي
د ناوکـــــــــــــې غــوندې ناځوانه دنیا

شـــــي به مصداق د تزلزل « شیــــــکنه »
دغم دغـــــــرې خورې په خـــوانه دنیا

## غـــــــزل

چې اړوي لکه انګار لکه سکـــــــــــروټې سترګې
سبحان الله ستا تکـــــــې تورې غټې، غټې سترګې

بیا به وېښېږم، په شپلــــــــــۍ د اسرافیل(ع) جانانه
که مې یو ځلي کړې د ستا په غیږ کې پټـــې سترګې

هسې یې توی کـــړي ستا په غم کې لپې، لپـــې اوبه
کنـــــې په څه دې زما روغې، او رمټــــــې سترګې

په پښتون زړه مـې ګوزار وکــــړي لاس تر شا ونسي
د ستا بې نګه پنجابــــــۍ، پنجابـــــــۍ جټې سترګې

کړس ورنه پورته کړې د زړه شیشـــــــې ذره، ذره کړي
چـــې په لیمو کې رغړوي کاڼې او ګټــــــې سترګې

«شیـــکن» چې کله هـم سپین ږیري په جرګه ورولم
جانان په ما باندې را باســـــــي بوټ، او بټــې سترګې

## بـــــاڼه

چـــــــــــې د بڼـــو سره باڼه جنـــګوي
ته وا، خپل منځ کـــــې پښتانه جنګوي

بیا چې کړې پـــــورې سلا یې په سترګو
لکه چړې چـــــــــــې په چاړه جنـګوي

زور خـــــو یې هلته تر هینداره خیږي
چـــــــــې د لېمو سره لېمه جنـــــګوي

اخ ! بیا را والـــــوته سیلـــــــــۍ د کابل
دریغه ! د زړه سره مې زړه جنـــــګـــوي

د رقیب نه مني، هــــــــوښیار دی لالی
خبر ته فــــــکر کړي، ماغزه جنـــګوي

د «شیکن» هغه مستـــــــــــــې لاړه ګله
د ستا غمـــــــونه به په څه جنـــــګوي

## غزل

خیرده، که تا هیر کړل لوظونه، او وعدې جانانه
مانه خو نه هیر یږي، تیرې زمانې جانانه
اوس هم په خیال کې را سره یې، لکه روح همدمه
کله چې سر په بالښت کېږدمه، د شپې جانانه

اوس هم رانغلې له دې دومره انتظار نه وروسته
ډیوې مې مړې کړې، او شوې پورې دروازې جانانه
سپوږمۍ په نیم اسمان ښکاره شوه، شپه پخه شوه پسې
لا هم اوږدیږي، ستا لپاره شبګیرې جانانه

په کټ کې ټول کړم، او را ټول کړم رنزیدلی بشر
لټوم زړه ته په درغو بهانې جانانه
بیګا د کور په هر د یوال باندې د ستا تصویر و
په هرطرف به مې چې سترګې غړیدې جانانه

هغه هم ته وې، که غلط کړمه خمار د میو؟
خو په هر جام کې به مسکۍ، مسکۍ کېدې جانانه
«شیکن» ولاړ پای، په رکاب د ژوندانه د نیلي
ځان غورځوم که دومره ډېر مې یادیدې جانانه

## غــــــزل

درنه زار شه، دا نـــــــړۍ دې بلا واخله
دا جهان او دونیاګـــــــۍ، دې بلا واخله

چـــې لمریز حسن دې تل ولي په کاڼو
هغه توره تروږمـــــــــۍ، دې بلا واخله

چې یې را وستم سر تـــــوره، ستا تر کلي
زما مینه لیونـــــــــــۍ، دې بلا واخله

بې له تانه چې کېده را بانــدې کال کال
د هجـــــران هغه ګـــړۍ، دې بلا واخله

په کـوم مخ به ستا له مخ سره سیالي کړي
د اسمان سپینه سپوږمــــــۍ، دې بلا واخله

چې «شیکن» ته به راوختـــــــې پرې پټه
د بابا د کور بلــــــــــــۍ، دې بلا واخله

## غـــــزل

درپسې مړ شـوم، د ژونديـــــــــــــــو له د ياره راغــــــلم
ايله چې اوس درته د نــــــــــــــوي ژوند، په لاره راغــلم

دا راته مه وا، ځونيمـــــــــــــــــــــرګه، نوته ولي راغــلي
دا ځکه راغلم، چــــــــــــــې نور تنګ له انتظاره راغــلم

ګرز شوم، غبار شوم، په تنکو شـــــــــــــونډو دې ولويدمه
خير ده،که خاورې د لحد شــــــــــــوم خو تر ياره راغـلم

د تورو خاورو په خـــــــــــــادرکې دې ما هم در پــټ کړه
دلته يواځې او يواځـــــــــــــــــــــې ستا د پاره راغـــــلم

ستا د پښو نښـــــــــــــــــــو راته دغه رهبـــــرې کـــوله
ستا د قدم په خاپو تلمه چـــــــــــــې تر داره راغـــــــلم

خالې د اوښکـــــــــــــو ملغلـــــــــــرې په ښــــــو پېيمه
نور مې څه نلرل غريب وم، بــــــــــــــــې سينګاره راغـلم

تاته يې څه چې راته وايې چې ته څنــــــــــــګه راغلي ؟
بس لکه وينه، د مين زړه له پــــــــــــر هاره راغـــــــــلم

ستا ليوني ملنګ « شيــــــــکن » ته تا دعا کــــــــــړې وه
په لارې ډېر خنډونه وو، خو زه بـــــــــــــــې خـاره راغلم

## غـــــــزل

ګرځې د ښامار غونــــــــــــــدې، زینـــــدی به در مینه شي
هســــــــــــــکه غاړه مه راوړه، شپیلـــــــــــــی به در مینه شي

هر وخت یـــــې د شونډو په ســــــرمه ږده چـــــــــې لمبه نه شي
اور به دې پیـــــــــــزوان واخلـــــي، نتګـــــــــــــی به در مینه شي

پورته دې اوربل کړي، بیا دې ښـــــــــــــکول کړي په تندي باندې
هــــــــــــر سهار را الـــوزي سیلــــــــــــــــی، به در مینه شي

خـــــــوري دې د افغان زویه په زړه بانــــــــــــدې سمبال ګرځه
نوی زلمی شـــــــــــــوی یې مرمـــــــــــــــــــی به در مینه شي

تل دې غیږ کـــــــــــــې نســــــــــــې د جوزا میاشت چې رابره شي
ستوری ستوری مه کېـــــــــــږه، سپوږمـــــــــــــــــی به در مینه شي

مړ مه شـــــــــــــــــې شاعـــره، تل یې دا دعا په خـــــوله کې وي
تل دې یادوې یوه جینــــــــــــــــــــــــــــــــــی، به در مینه شي

ږده یې لکه تاج « شیکنه » دنـــــــــــــــــــــــــګه په تنـــدي باندې
ته اصیل پښتـــــــــــــــــون یې داپــــــــــــګړی، به در مینه شي

## ټوټه

نور درنه د صبر روژې نیسمه
ځان په رحمتونو کې را نغاړمه

ستا غم ته مې کلکه غاړه ورکړله
تل به دې یادونو کې را نغاړمه

تاته مې د کار تنهاکې نه ښایم
نور به یې لاسونو کې را نغاړمه

ویر زړه مې ستا داسې غم خوړلی ده
بیا به یې کلونو کې را نغاړمه

تا ته بغاوت د اظهار ونکړي
ژبه مې غاښونو کې را نغاړمه

څوک دې امانت تصویر ونګوري
ځکه یې جیبونو کې را نغاړمه

نشته د «شیکن» سره درمان دزړه
درد یې په لفظونو کې را نغاړمه

## پکتــــــــیکا

لکه مجنـــــــــــــــون لکه لیلا د رســــــــــــــــره مینه لرم
زما رنګینـــــــــــــــــې پکتیــــــــــــکا د رســره مینه لرم

غوټې، نښتر، لمنځــــــــــې، څیـــړی، اوتکې شنـــــې او بښتـــــې
بس طبعیي لرې ښـــــــــکلا، درســــــــــــــــــره مینه لرم

اول به زړه بیا به د اسر شینـــــــــــــــدم، د ستـــــــــا لپاره
که مــــــــــــــې ثابته کـــــــــــــړه نوبیا، درسره مینه لرم

مخکې هم و، خـــــــــو اوس دې ډېر کوم، احساس دجنــــــــــون
اوس مسافر یم تر پخـــــــــــــوا، درســــــــــــــره مینه لرم

له دې سېوا مې پیدا نــــــــــــــــــــــکړ بل واحد د قیاس
بس یو عـــــــــــــــالم ، یو دنیا درســـــــــــــــــره مینه لرم

که چېـــــرته هم د اوریدو حـــــــــــــــــــواس لري په ځان کې
په لااله الاالله درســــــــــــــره مینـــــــــــه لـــــــــرم

د پت پـــــــــــــــــړونی د ملالــــــــــــــــــې او نازو یادیږي
د ننـــــــــــــــګ شمله یې د بابا درســــــــــــــره مینه لرم

«شیـــــــــــکن» الهام د غـــــــــــزل اخلم ستا له خـــــــــړو غرونو
زما د شعر محتـــــــــــــــوا درســــــــــــــره مینه لرم

## تنهاکې

زما په لاســـــو، ستــــا په زړه تنهاکې
د مزدورۍ او بېـــــــــــــلتانه تنهاکې

راځه چـــــې وښايــــــو يو بل ته ګله
لکه دوه ورونړه پښتــــــــــانه تنهاکـــې

د چا په ژبه او د چا په شـــــــــــوندېو
د لته ختلـــــــــــې په هر څه تنهاکې

زما خـــــو زړه ور څخه درد کړې خانه
د ستا به وې اوکه به نه تنهــــــــــــاکې

## نصیبه

ښه نو، په دغه دوو کې، وو خـــــــوکړه یـــو کار نصیبه
یا یار ته ما ورکړه ، یا مــــــاته راکـــــــړه یار نصیبه

که بدلېدای، یا خر ځېـــدای، د تقدیرونو برخـــــــــې
ما به له وختــــــــه وې خـــرڅ کړی، په بازار نصیبه

نه دې خـوشال کړم، نه دې سیال کړم له سیـالانو سره
کله ناکله ژړا راشــــــــــــــي، په دې خـــوار نصیبه

که روغ مې غـــــــواړې، نو را پاڅیـــــړه ملتیا مې وکړه
ژوند مـــــــې تړلی د جنـــــــون ســــره، په تار نصیبه

خدایږو مجبور یم، کنې دا مــــــــې سر ښینـــــــدنه، نه وه
چې د خلیل غونـــــــــــدې ګډیــــــږمه، په نار نصیبه

پدې پوهیږم؛ خو په نیـــــــــــکو کې تادي په کار دی
په صبـــر صبـــر راته مه کـــــــــوه، اصـرار نصیبه

ښه ته چـــــــې تل ساتي «شیــــــکن» په تمه تمه یار ته
ښه نو په مـــــرګ خـــــو په کار نه وي اعتبـــار نصیبه

**ځوانیمرګ ګلاب**

زمونږ د کلي ستر و، که کمکی و ژړیدو
اشنا په جنازه دې هر سړی، و ژړیدو

ږنګ بنګ خمار، خمار، د سور پالنګ د پاسه پورت وې
ګلاب ، ګلاب ځوانۍ، ته دې سپرلی و ژړیدو

مرګی دې د ځواني و، زور یې غوښت بې حوصلې شول
ستا کټ او چتیدو، خپل او پردی و ژړیدو

خبره جینکو کړه، په ګودر د نجنو مېره
ټوټې، ټوټې یې ولویدو، منګی و ژړیدو

نن نه وې د همځولو جمې ږنګې وې جانانه
خفه، خفه غمګین مازدیګری و ژړیدو

په ژوند به دې مدام ویل چې ډېر د زړه نه سخت یې
د ستا هغه «شیکن» لکه کوچنی و ژړیدو

## ستړی

درنه رهي شـــــــــــومه، د تورو غرو په لاره ستړی
کډه تړم نــــــــــو ر درنه ځمه له دې ښــاره ستړی

دا سر خوړلی غم دې نه هېـــــريږي مړ به مـــــې کړي
زړه مې خوږيږي، شوم د بنګـــــــــو له خماره ستړی

بل مـــــــې څوک نه وې اول چېغه مـــــې تر تاوې مورې
چـــــې کله راشم له ډيپټـــــــــــی نه او له کاره ستړی

ډيوې مې مړې کړې، نيمه شپه شوه هغه نه راځـــــي نور
اوس خو مې پريږده، چـــــــې ويده شم انتظاره ستړی

څـــــــــومره درانه دي، ستا درانه درانه غـــــمونه
وړلي يې نه شي سړی سـم دم کـــــړي له واره ستړی

د ژمي شپه وې، ستـــا يادونه وې اوزه يـــــــــــم ګله
په کټ کــــــــې لېټ په لېټ را اوړم، تر سهاره ستړی

## څلوریزه

زړه مې د پیر بابا مرید دی ، تـوله شپـــه ژړیــږي

د الاهـــــــو ســـره ستا نــــوم په زمــزمه یادوي

کله نا کله یــــــــــې غلط په یــــــــو بله کــړمه

لکه ماشوم چې خپله مــــــــور په نیمه شپه یادوي

(( )) (( (( )) (( )) (( )) (( (( )) (( )) )) (( )) (( )) (( (( (( (( (( )) )) )) ))

دا بې بنیاده او دا پوچه مفـــــــکوره نه منو

د افغانیت او دین ترمنځه فاصـــــــله نه منو

چې اسلامیت او افغانیت یې په سر ونه لیکي

مشره د ستا دې وې مـورږ دغه تذکیره نه منـو

## طنز

ځومره عجیبه را باندې ګـــــــرانه ده
خپله پښتنه را باندې ګـــــــــــرانه ده
درې واړو کې نښـــــې ستا دلاس وینم
کور، کلی، کوڅه را باندې ګـــرانه ده

شته ده هغې ښځې درې ځـــلور لوڼه
ټولو کې وړه را باندې ګـــــــرانه ده
تل یې په نکریزو په ځنــــــګل لیکم
دومره دې نامه را باندې ګـــرانه ده

کلي کې خـــو ډېرې، ډېرې، ډېرې دي
کلي کې یوه را باندې ګـــــــرانه ده
خدایزده چې په څه زړه ته را تېره ده
خدایزده چـــې په څه را باندې ګرنه

پلاره پرې ور دانګه جـــــرګه ور وله
پلاره ګوزاره را بانـــــــدې ګرانه ده
وې په کې «شیــکنه» د دیدن مـوقع
ټــکنه غرمه را باندې ګـــــــرانه ده

## نور دې نه یادوم

زما د ستــــــــــــړي ژوند ارمانه، نور دي نه يادوم
زما د زړه د کلــــــــــــــي خانه نور دي نه يادوم

اوس ژړا نه راځي چـــې ګورم دي دلاس نښو ته
اوس مـــې هير کـړی يې جانانه نور دي نه يادوم

شونډې مې چاودې شوې په ژبه مې تڼاکې وشوې
سترګې مـــې درد کړې له ژړا نه نور دي نه يادوم

پښتون سړی يمه له خپلې کېســـــــــــــې نه اوړمه
که دونيا غـــــــونډه شي را ورانه نور دي نه يادوم

بيا به دي نه رسوا کـــــــــــــومه په ځان مه ويريږه
تپوس دي نه کــــــــوم له چا نه نور دي نه يادوم

« شيـــــــــکن » به نور دستا په نوم شعرونه نه ليکمه
زړګي مـــــــــــــې صبر شو له تانه نور دي نه يادوم

## پېغلې

سر سپینوي د پلار په کـــــــــور زموږ اکثره پېغلې
خو د حیا پړونی نه اخلـــــــــــــــــي له سره پېغلې

موږ ورته ځکه سپیلنـــــــــــــــي لوګي کوو د وینو
الهي څوک یـــــــــــــې راته نکړي له نـظره پېغلې

په ملالـــــــــۍ ژبه شروع دشهید ورور صـفت کړي
په مازدیګر کې چې راتاو شي له ګودره پېـــــــــغلې

د میکناتېن له ککریو منګـــــــــــــــــــوټي جـوړوي
له کولالانو کمې نه دې با هنره پېـــــــــــــــــــغلې

را ویښوي غفلت وهلـــــــــــــــــــي پښتانه له خـــوبه
چمبه را واخلې د غزا واخلې سندره پېـــــــــــــــغلې

تنها په کور کې، د کـــــور چارې په مخ نه وړې ګوره
په میوندونو کې وتلې تر سنګره پېـــــــــــــــــغلې

چې حماسې دې خوري موجونه د هر شعر په بیت کې
خود به په تا کړي افتخار « شیــــکن » شاعره، پېـــغلې

## زړونه

چـــــــېږ د دونيا په طبيبانو نه روغيـــــــږي زړونه
زه څه خبر ومـــــــې داسې به ماتيـــــــږي زړونه

چې يو رټلی ځواب درکـــــــــــړي بې وفا ملګرې
په دې خبره خو به خامخا درديـــــــــــږي زړونه

په دې بازار کې ورته ښکلــــــــــــــي درناوی نه لري
د لته ارزان دي په يوه خندا خر څيــــــــږي زړونه

را شي نيلام دی، په تاوان دی، که هر څـــوک يې اخلي
زموږ د زړونو غلو په تاســــــــــــو مو لوريږي زړونه

ړلی، ړلی په سينه لګـــــــــــــي ستا د ستــرګو ګاتې
لکه ګلـــــــــــــــــونه پاڼه پاڼه مو تو يږي زړونه

چــــــې مو يو بل ته د يو بل د زړه خبـــــرې وکړې
له هغه وخته مو يو بل پســــــــــــې خوږيږي زړونه

يوه، يوه په زړه ليکې « شيـــــــکن » د شعـــــر په ژبه
و کړه خبرې ستا خبـــرو ته مو کيــــــــــږي زړونه

## غزل

لکه چې څرېکه له پرهاره خیــــــــــــــــبږي
دحق نارې به مې له داره خیــــــــــــــــبږي

سر مې په غېږه کــــــــــــــــې اوچت ونیسه
مورې چې روح مې په قراره خیــــــــبږي

هغه ګودر اوس په مرچــــــــــــــو بدل دی
د اور لمبې یې له چیناره خیــــــــــــــــبږي

دا مخامخ د کومـــــــــــــــې کونډې کور دی
ترې انګولا وې تر سهاره خیــــــــــــــــبږي

شیــــخه دا هم د خــــــــــــدای نامه یادوي
دا چې نغمې مې له ستاره خیــــــــــــــــبږي

تا خو ویل اوس مې هیر کړې « شیــــــکن »
نوبیا په بام د چا لپاره خیــــــــــــــــــــبږي؟

## مړه مينه

خامــــــــوشه مازد يګر و، چنــــــارونه رپيدل
ژړل يې په سلګــــــو، سلګــــــو ګلونه رپيدل

ولاړ وم درته سرته هيـــــــــخ دي نه ويل جانانه
د خاور په امبار دي بېراغــــــــــــونه رپيدل

بېګا اورونه مړه وو، د ټول کلــــــــــــي ترسهاره
ډيوې به مړې کېدلـــــــــــــې چراغونه رپيدل

نرۍ سيلۍ را والوته نـــــــرۍ خوشبو خوره شوه
کفن کـــــــــې دي د سرو څڼو ســرونه رپيدل

چـــــــــــې کله دي همزولو د کفن غوټې سپړلې
چا لاس په سترګــــــــو کېښود د چا زړونه رپيدل

« شيـــــکن » چې کله ستا د کټ بازو ته مټې ورکړې
اشنـــــــــــا په ټوله لار يې اندامــونه رپيدل

**صابر خروټي**

**تا کړه روښانه د دې خــاورې اینده اتله**
**بیا دي او چته کړه زمونږ په سر شمله اتله**

**درته به دود کړم سپیلني چې د نظره نشي**
**اتلولي دي په نـــــــــړۍ و ځلیده اتله**

**د کوم افغان بچی ولاړ وي د سیالې په ډګر**
**ماته دې نه شوه د فولادو حـــــــوصله اتله**

**ماشومو هیلو دې تاریخ ته نوی باب راوړی**
**په هره پاڼه یې لیکـــــــــــم د ستا نامه اتله**

**ته به ځلیږي لکه ستوری د هیواد فضا کـــې**
**تاته « شیکن » په دعا لاس نیــسي جوړه اتله**

**کله چکــــــــــــې لګوه کله، کله  کټ جانانه**
**زمونږ په زړونو کــــــوه لوبه د کیرکټ جانانه**

## مور خپل زوی ته !

لکه سهر چــــــــــې په ګلاب باندې شبنـــــم اوریږي
ستا په تصویر باندې مــــــې تل دسترګــــــو نم اوریږي

ته به په کوم محفل کـــــــــــې خاندې د همزولو سره
زما سلګــــــــــــــــۍ نه قلاریږي په ما غـــــم اوریږي

ستا ماشومتوب مې ټک په زړه شـــــــي ستا ساړه لاسونه
چې تورې لړې شـــــــي باران زمـــــورږ په چم اوریږي

زما له سترګو نه پنا بچیه هیر مـــــــــــــــــــــې نه یې
ستا هر یو یاد مې د خـــــــــــورږمن زړه په البم اوریږي

زما د تورو سترګو تور « شیــــــکن » به څه حال کې وي
د غه یو خیال به مـــــــــــې په زړه تر عمره سم اوریږي

## لیونی !

درپسې راشمه د غـــــــــــــــــرونو غرڅنی لیونی
کله نا کله مې مجبـــــــــــــــوره کړي زړګی لیونی

په نیمه شپه کې دي څنځیــــــــر د دروازې شرنګوم
درته ولاړ وم لکه غــــــــل لکه پیـــــــــری لیونی

بیا دي په سپور الوول زلفـــــــــــو کې ګل وینمه
سرکال بې وخته په کوڅو راغی سپرلــــــــی لیونی

دا رانه هیر شي چې ما هم چېرته توبـــــې کړې دي
په مړوندو کې دي چې شرنګ وهي بنګــــړی لیونی

ستاسو د کور په رنګ دیوال لیکي نامه د « شیـــکن »
ستاسو د کلي یو شاعـــــــــــــــردی، یو سړی لیونی

## مینه

مینه د مینـــــــــــــــــــــــې قاتیلانو په ټوپک وویښته
شاعر دمینې په نوم ځکه کــــــــــــــــــوم غزل نه لیکي

مینه اوس مړه ده، مینه لاندې شوه تر خـړو خــــــــــاورو
پردي، پردي وي خو خپل خپل وي اوس یې خپل نه لیکي

دا داسې غم دی چې د ډېر خلکـــــــــو زړونه مات کړي
خدای دي د چا هـــــــــــم په پردي وطن اجل نه لیکي

څوک چــــــــــــې په ژوند زما دسترو هیلو قدر نه کړي
له مرګه پس مــــــــــــــــــــې دي ښاغلی او اتل نه لیکي

هغې ته ووایه دا وران کړه چـــــــــــــې رسوا مې نکړي
زما نامه دي په نـــــــــــــــــــــکریزو په څنګل نه لیکي

هلته اور بل دی وایي اور مې ترې غـــــــــــــزل وا نخلي
« شیکن » شعر ولیکي، عنوان کـــــــــــې یې کابل نه لیکي

ځکه لیکم هره وینا او هر مضمـــــــــون په وینو
د تاریخ ټولې پاڼې سرې شوې د پښتون په وینو

**ټوټه**

**لکه غزل مې په زړګي خـــــوره شوه**
**د خيال په لاس کې مې مړوند راکوي**

**وايي شاګرد دي شوم شاعره مې کړه**
**ماته د زړه دردونه خوند راکــــــوي**

**چې دي بلا واخلــــــــم د هر تخيل**
**دومره توفيق دي خـــــداوند راکوي**

**له يا قربان نه دي قربان « شيــــــکنه »**
**هر ټپه دي نـــــــــوی ژوند راکوي**

(()) (( ( ( )) )) ( ( )) ( ( )) ( ( )) (( ( ( )) (( ( ( )) ((

**صبر يې نه کېدو چې څنـــګه به را تلو تويېدل**
**له اننـــــګو نه تيريدل په ګــــريوانه تويېدل**

**دواړو ژړل خـــو په ژړا، ژړا کې دومره فرق و**
**د جانان اوښکــــــــې تويېدي زما باڼه تويېدل**

**قطعه**

**د ادب تنده ماتــــــــوم په غاړه جــــــــام اړوم**
**ملګرو نن مو اخيــــــــــــــــري غزل ته پام اړوم**

**د چا خبره ده، د چا د ســــــــــــوي زړه اواز دی**
**نن يې په شعر په منظــــــــــوم، موزون کلام اړوم**

**هغه چې راشي نو ليدو ته يــــــــــې وم دومره تږې**
**که په لمانځه ولاړه يم ورته ســـــــــــــلام اړوم**

**په جنسيت کـــــــــې يې د زن په ځای کې مرد وليکئ**
**چار واکـــــــــــــو زه مې تذکيره د يار په نام اړوم**

**نن يې ويل ستا انتظار لکه چـــــــــــې ټول عمر شو**
**لکه کوچـــــــــــــــــــۍ کډې کوم درته په بام اړوم**

**د « شيکن » نوم دی، د « شيکن » د ګوتو نښـــــې په کې**
**د دې کتاب هـــــــــره صفحه په احتـــــــــرام اړوم**

## مسافر له مجبورۍ

سترې اهونه دي يو څو ستـــــــــــــــړې سلګۍ ولېکه
شاعره دا مې سرمايه د زندګـــــــــــــــــــــــۍ ولېکه

کلونه وشول چې زه ځم خــــــــو ما غربت نه پرېږدي
لا مې هم نوره د اوږده سفـــــــــــــــــــر لړۍ ولېکه

خېر ده زه هسې هـــــــــــــــــم بلد يم له دردونو سره
ماته غمونه راکړې يار ته خـــــــــــــــــوشالۍ ولېکه

دا يو تصوير واخله، دا څو د کاغذ ټـــــــــــوټې واخله
دا د يار خط ده بس همدا ورته ډالــــــــــــــۍ ولېکه

نور درته نه وايم چې څوک ده او اوسيـــــــــږي چېرته
ځای يې په زړه کې ده او نوم يې شاپېــــــــرۍ ولېکه

ته خو پوهېږې چې« شيکن» ته وطن څومره خوږ دی
د ليک عنـــــوان يې مسافر له مجبــــــــــــورۍ ولېکه

مشره ما داسې خـــــــوب لېدلی اوس منې او کنه
د ستا د ځنګ ملګــــــــــري تا او ستا پښتو وژني

دوی هوښياران دي دوی دا پړه په غاړه کله اخلي
دوی مو همېـــــــــش د سر سړی په پښتنو وژني

خپل پيغمبرص ته !

ګوته په خوله پړدي، خـوله په ګوته پړدي چې څه ولیکم ؟
د ښکلــــــــــــــي حسن اندازې ته دي حيران پاتې شوم

کتاب تمام شـــــو، قلـــم وچ شــــــو، ژبه هم ستړې شوه
شاعر« شيـــــــــــکن » دي په ستايلو کې ناتوان پاتې شو

Download from: aghalibrary.com